امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۶ الی ۱۱ دلو ۱۴۰۳

## شماره نودو سوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ولایت د ټولو ولسوالیو او کلیو د استازو، علمای کرامو، متنفذینو او قومی مشرانو ستونزې او وړاندیزونه یې د یوې لویې غونډې په ترځ کې واورېدل



یاده غونډه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د هغه حکم په اساس جوړه شوې وه چې وزیرانو ته یې حکم کړې وو چې تاسو د خلکو ستونزی د نیږدې څخه واورۍ او ستونزو ته یې رسیدنه وکړی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د غونډو په تالار کی د یادی ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ یوه غونډه د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۸ نیټه جوړه سوه چې د مرکزی رئیسانو په ګډون د کابل ولایت والی الحاج ملا امین الله عبید، علماء کرامو، د ۱۴ولسوالیو استازو، قومی مشرانو او ګڼ شمیر عامو خلکو ګډون درلود...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د مرستیالې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د مرستیالې یتیا سکون، دپروګرام مسؤل یاسین الهمدنی، د بشری مرستو د لاس رسی مسؤل عدنان بغجتی، د اړیکو...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AAR Japan خیریه موسسې ترمنځ د ۵۰۲,۲۹۶ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د AAR Japan خیریه موسسې له رئیس محترم محمد بشیر باصر سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۷ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ولایت د ټولو ولسوالیو او کلیو د استازو، علمای کرامو، متنفذینو او قومی مشرانو ستونزې او وړاندیزونه یې د یوې لویې غونډې په ترڅ کې واورېدل



یاده غونډه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د هغه حکم په اساس جوړه شوې وه چې وزیرانو ته یې حکم کړې وو چې تاسو د خلکو ستونزی د نیږدې څخه واوری او ستونزو ته  یې رسیدنه وکړی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د غونډو په تالار کی د یادی ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ یوه غونډه د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۸ نیټه جوړه سوه چې د مرکزی رئیسانو په ګډون د کابل ولایت والی الحاج ملا امین الله عبید، علماء کرامو، د ۱۴ولسوالیو استازو، قومی مشرانو او ګڼ شمیر عامو خلکو ګډون درلود.

یاده غونډه قاری محمد خوشحال زمانی د قران کریم د تلاوت په ځو مبارکو آیاتونو پیل کړه.

د غونډې په لومړیو کی د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس مولوی نجیب الله انوری ټولو ګډنوالو ته ښه راغلاست وویل او د ټولو ګډنوالو څخه یی مننه وکړه چې په دې پراخه غونډه کی یې ګډون وکړ.

همدا راز مولوی انوری صاحب وویل چې طبیعی او غیرطبیعی پېښو زیات ځپلی دی او ننی غونډه مو په دې موخه جوړه کړی ده چې د خلکو ستونزی او وړاندیزونه واورو او مشکلاتو ته رسیدنه وکړو.

د کابل ولایت اړوند د استالف ولسوالۍ استازی قاری باچاجان وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه مننه کوم چې داسی یوه غونډه یې ترتیب کړی ده چې په هغه کی ولسونه خپل غوښتنې، مشکلات او نظرونه د حکومت سره شریک کوې او زیاته یې کړل: په هیواد کی چې هرڅوک زیانمن کیږی د زړه د تله په خوا بدې کیږو او باید حکومت او ولسونه په ګډ کار وکړی ترڅو د پېښو پر وړاندی وقایه ولرو.

او ښاغلی قاری باچاجان د خپلی ولسوالۍ ټول مشکلات د مسؤلینو سره شریک کړه او د همکارۍ غوښتنه یې وکړه.

د بګرامی ولسوالۍ استازی حاجی ګل محمد د یادی ادارې د مسؤلینو څخه مننه وکړه چې داسی مهمه غونډه یې جوړ کړی ده او د افغانستان اسلامی امارت په راتګ سره مونږ خوښ یو او تل به د مسؤلینو سره پوره همکاره یو او مونږ غواړو چې یاده اداره مونږ ته اساسی کار وکړی.

ښاغلی حاجی ګل محمد خپل ټول مشکلات مسؤلینو ته وړاندی کړه او وویل چې تر بل هر وخت په ژمی کی مونږ په ستونزو کی ګیر یو او باید زمونږ ولسوالۍ ته اساسی کار وسی.

وروسته د ټولو ولسوالیو استازو په خپل نوبت سره  هر یوه د خپلی ولسوالۍ او کلی مشکلات د مسؤلینو سره شریک کړه او دهمکارۍ غوښتنه یی وکړل.

د کابل ولایت والی، الحاج ملا امین الله عبید صاحب د کابل ولایت د ټولو ولسوالیو استازو علماء کرامو او قومی مشرانو ته ښه راغلاست ووایه او له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې د سرپرست څخه یې مننه وکړه چې یو داسی لویه او مهمه غونډه جوړه کړی ده.

د غونډې په ورسیتو کی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د کابل ولایت والی، مسؤلینو، د ولسوالیو ټولو استازو، علماء کرامو او قومی مشرانو  ته یې ښه راغلاست وویل.

همدا راز ترابی صاحب وویل چې مونږ د خلکو پر سر حاکمان نه یو، بلکې د هغوی خدمتګاران یو او خلکو له مونږ سره ډېری همکارۍ کړې دی او تل به مونږ ته ښې مشورې راکوی.

غونډه په اختتامیه دوعا سره پای ته ورسیدل.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د مرستیالي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د مرستیالې یتیا سکون، دپروګرام مسؤل یاسین الهمدنی، د بشري مرستو د لاس رسی مسؤل عدنان بغجتی، د اړیکو مسؤل محمد سلیم خالد او همکارانو عبدالمجید نوری او محمد عمر هاشمی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۶ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.
ترابي صاحب له هرڅه وړاندی د IOM پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې IOM سازمان تل زموږ سره په بشري او تخنیکی مرستو کی ګډون کړی دې چې موږ ورڅخه ځانګړی مننه کوو او په راتلونکی یې هم پر ګډو همکاریو ټینګار وکړ.
همداراز ترابي صاحب وویل چې موږ د IOM سازمان څخه مننه کوو چې په دریو میاشتو کی یې سروې کړی ده او خپل معلومات یې راټول کړی دی او وویل چې په افغانستان کی تر دې هم زیات خلک زیانمن دی او مرستو ته اړتیا لری او باید اساسی او د پام وړ مرستی ورسره وسی.
د IOM سازمان مرستیالې یتیا سکون له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یې کړه چې یادی ادارې تل زموږ سره د طبیعي او غیر طبیعي پېښو په مخینوی کی زیاته همکاری کړې ده او موږ به تل هڅه کوو چې د دې ادارې سره همکاره پاته سو.
همداراز د IOM سازمان د پروګرام مسؤل یاسین الهمدنی وویل چې موږ د اقلمی بدلون د زیانونو په اړه څیړنه وکړه او په۳۴ ولایتو کې د دې ادارې مسؤلین پوره راسره همکاره وه او په ۳۴ ولایتونو کی د ۵۰۰ کارمندانو په مرسته ۶۲۹۱۷ کلیو کی سروې وشوه او ۹۳۰۳۳ کسانو څخه مو د اقلمی بدلون د زیانونو په اړه معلومات راټول کړی دی.
د غونډې په ورستیو کی د IOM نړیوال سازمان لخوا په ۳ درو میاشتو کی راټول شوی معلومات د پریزنټیشن په شکل د یادی ادارې کار مندانو ته وړاندی کړل او ژمنه وسوه چې په راتلونکی ورځو کی به د یادی ادارې او د IOM تخنیکی کمیټې ناستی ولری.

---

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AAR Japan خیریه موسسې ترمنځ د ۵۰۲,۲۹۶ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د AAR Japan خیریه موسسې له رئیس محترم محمد بشیر باصر سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۷ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د یادې موسسې پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او څرګنده یې کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې تل هڅه کړې چې د هغو موسسو سره همکاری وکړی چې په بشري چارو کې فعالیت کوی. هغه زیاته کړه چې له موسسو څخه ټمه کوو ترڅو د زیاتو مرستو په جذب اومستحقینو ته یې په شفافه او پر وخت وېش کې لا زیاتې هڅې وکړی.
همدارنګه، د AAR Japan موسسې رئیس محمد بشیر باصر د ترابي صاحب له همکارۍ او د موسسو د ستونزو د هوارولو په برخه کې د هغه له جدیت

ځخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د دې موسسې کارکوونکی په مرکز او ولایتونو کې له مرسته کوونکو ادارو سره بشپړه همکاری کوی.
د یادونې وړ ده چې د لاسلیک شوې تفاهمنامې له مخې به یاده موسسه د ۵۰۲,۲۹۶ (پنځه لکه دوویښت زره او شپږ نوی) ډالرو په ارزښت د کابل ښار او د زابل ولایت په شملزایی، شینکی، نرنګ او جلدک ولسوالیو کې د ماینونو او ناچاودو مهماتو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرامونه ترسره کړی، په دې توګه چې دغه پروژه درې اساسی برخې لری:

۱. په ټولنه کې د چاودېدونکو توکو په اړه د ښوونې او روزنې سیستم رامنځته کول.
۲. د رسنیو او ښوونیزو موادو له لارې د ماینونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی وړاندې کول.
۳. په ټولنه کې د ماینونو او ناچاودو مهماتو د خطرونو په اړه د ښوونیزو فعالیتونو د اغېزمنتیا ارزونه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان مبلغ ۵,۳۳۷,۶۹۰ افغانی پول نقد را برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه CWSA به امضا رسیده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر بعد از سروی، در مرکز آن‌ولایت مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۲۹۴۹ افغانی پول نقد در حضور مسوولان توزیع شد که در مجموع مبلغ ۵,۳۳۷,۶۹۰ افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.
گفتنی است که موسسه مذکور در هماهنگی با آن‌ریاست در سه ماه آینده نیز این خانواده‌ها را تحت پوشش مساعدت نقدی قرار خواهد داد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس د کیبلي پُل د ترمیم له بهیره څارنه وکړه



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، قاری خیرمحمد غازی، د مهترلام ښار د نوری کلی په کیبلی پُل د ترمیم چارې وکتلې او له نږدې یې څارنه وکړه.
نوموړی د دې څارنې په ترڅ کې د قراردادی شرکت ساحوی انجنیر ته سپارښتنه وکړه چې ټول کارونه باید د نقشې او پروپوزل سره سم ترسره شي.
دا ترمیماتي پروژه له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ملی اداري له بودجې څخه د ۲،۱۷۶،۰۵۰ افغانیو په لګښت د منصف ساختمانی شرکت ته ورکړل شوې ده، چې تر اوسه ۶۰ سلنه کار یې بشپړ شوی دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۱۲۴ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با حمایت موسسه IOM، برای ۱۲۴ خانواده که از اثر حوادث طبیعی و غیرطبیعی در ولسوالی‌های برکی‌برک، خروار، آزره، چرخ و محمدآغه آن ولایت آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی مساعدت نقدی و غیرخوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۱۸۰۵۰ افغانی، چاکت، بوت، پتو و دست‌کش توزیع شد که در مجموع مبلغ ۲،۲۳۸،۲۰۰ افغانی پول نقد برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.
در اخیر دریافت کننده‌گان این کمک‌ها از آن ریاست و موسسه متذکره ابراز قدردانی و تشکری نمودند.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۴۹ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د OHW ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په علی آباد ولسوالۍ کې، د وچکالۍ له امله ۲۴۹ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، چې ددې مرستو دویم پړاو وو، هرې کورنۍ ته ۳،۰۰۲ افغانۍ ووېشل شووې، چې ټولټال یاد شمېر کورنیو ته ۷۴۷،۴۹۸ افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۱ کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ډنمارک د کډوالو نړیوالې شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې شورا په مالی ملاتړ، ددې ولایت په دانګام ولسوالۍ کې د تېرو سېلابونو له امله ۸۱ زیانمنو، بېوزله او اړمنو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د ژمنیو اړتیاوو د پوره کولو او د سون توکو پېرلو په موخه ۱۹،۷۸۰ افغانۍ او ۵ تختې کمپلې ووېشل شوې، چې ټولټال ۱،۶۰۲،۱۸۰ ( ۱ میلیون، ۶۰۲ زره او ۱۸۰ ) افغانۍ  د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

له مرستو برخه منو کورنیو د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ډنمارک د کډوالو نړیوالې شورا (DRC) څخه د مرستو په پار مننه او خوښی څرګنده کړه او د دی ډول نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.




## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰۰ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ARC موسسې په مالی ملاتړ, ۴۰۰ اړمنو کورنیو ته د یاد ولایت په نوزاد ولسوالۍ کې نغدی مرستې ووېشلې

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲،۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۱،۱۲۰،۰۰۰ (۱ میلیون او ۱۲۰ زره افغانۍ) د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د بارانونو او اورلګېدنې له امله ۱۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یاد ریاست، د ولایت مقام او د کډوالو چارو ریاست د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۱۰ تختې کمپلې او ۱ پلاستیکی سطل ووېشل شول.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۳ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د کابل ښار د اوومې او اوولسمې ناحیې اړوند زیانمنو کورنیو ته د سون توکو او د ژمنیو جامو د پېرلو په موخه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د څلورم پړاو ۲,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۵٦٨,٤٠٠ ( ٥٦٨ زره او ٤٠٠ ) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې یاد شمېر هرې کورنۍ ته به په راتلونکو اته پړاوونو کې ټولټال د ۳۲۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شی.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶.۵۷ میلیونه افغانۍ ۲۹۲ اړمنو کورنیو ته ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, په احمدآباد ولسوالۍ کې ۲۹۲ اړمنو کورنیو ته ۶.۵۷ میلیونه افغانۍ ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د سون توکو پېرلو لپاره ۲۲,۵۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

د یاد ریاست رییس مولوی نثار احمد نجات, اړمنو ته د رسېدنې هڅې اغېزمنې وبللې او د همکارو موسسو فعالیتونه یې وستایل.

ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو له دې مرستو مننه او خوښی څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۱۵۰ خانواده نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس حکم مقام ولایت لغمان ریاست آمادگی مبارزه باحوادث آن‌ولایت، پس از سروی، برای ۱۵۰ خانواده آسیب‌دیده و نیازمند در ولسوالی الینگار، کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد و ۵۰ کیلو برنج توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۵۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان با حمایت موسسه یونیسف، برای ۵۲ خانواده که از اثر برف‌باری و آتش سوزی در ولسوالی‌های شینواری، سیاگرد، سیدخیل، جبل السراج و مرکز آن‌ولایت آسیب‌دیده بودند،بعد از سروی کمک های غیرخوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده یک بسته البسه زمستانی، ۵ تخته کمپل، یک عدد سطل پلاستیکی، ۲ عدد پوشکه آب، یک سیت ظروف، ۱۵ کلچه صابون و یک بسته صحی و برای ۱۴ خانواده که منازل شان به طور کلی تخریب شده بود، به هر کدام یک باب خیمه نیز توزیع گردید.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹۰ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په سره رود ولسوالۍ کې ۱۹۰ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د څلورم پړاو ۲,۸۰۰ افغانۍ د خوراکی توکو د پېرلو په موخه ووېشل شوې، چې ټولټال ۵۳۲,۰۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې په راتلونکې کې د یادو اړمنو کورنیو لپاره د نورو مرستو پلان هم شتون لری.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۹۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د OHW موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، په چهاردره ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۳۹۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۳,۰۰۲ افغانۍ ووېشل شوې او ټولټال ۱,۱۵۸,۷۹۰ (۱ میلیون، ۱۵۸ زره او ۷۹۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۱۸ کورنیو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د OCHR موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، چې د AHF سازمان یې تمویلوونکی دی، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د جوند ولسوالۍ اړوند ۴۱۸ سېلاب ځپلو کورنیو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې.



په دې بهیر کې، چې د سیمه‌ییزو چارواکو په شتون کې ترسره شو، هرې کورنۍ ته ۱ سیټ جاکټ، ۲ پتو، ۳ جوړې جرابې، ۴ جوړه بوټونه، ۶ جوړه دستکشونه، ۷ سیټه جاکټونه، ۵ جوړه ښځینه جرابې او ۸ تخته کمپلې ووېشل شوې.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٦٦٤ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په برکی برک ولسوالۍ کې ٦٦٤ زیانمنو کورنیو ته وروسته له سروې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۸۰۰ افغانۍ ووېشلې شوې، چې ټولټال یاد شمېر کورنیو ته ۱,۸۵۹,۲۰۰ ( ۱ میلیون، ۸۵۹ زره او ۲۰۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۹۴ خانواده نیازمند کمک نقدی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات (IRC)، ریاست مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی کمیته متذکره، پس از سروی، برای ۱۹۴ خانواده نیازمند در ولسوالی سرخرود کمک نقدی توزیع کرد.

در این مرحله، به هر خانواده مبلغ ۲,۸۰۰ افغانی به منظور خرید مواد غذایی در حضور مسئولین توزیع شد که در مجموع مبلغ ۵۴۳,۲۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها تخصیص داده شده بود.

قابل یادآوری است که در آینده برای این خانواده‌های نیازمند برنامه‌های کمک‌رسانی بیشتری نیز در نظر گرفته شده است.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل برای ۱۳۵ خانواده آسیب‌دیده کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات(IRC) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، با حمایت مالی این کمیته، برای ۱۳۵ خانواده آسیب‌دیده در مربوطات ناحیه چهارم و هفتم شهر کابل، کمک‌های نقدی را به منظور خرید مواد سوختی و لباس‌های زمستانی توزیع کرد.
در این روند، پس از انجام سروی و در حضور مسئولین، به هر خانواده قسط چهارم به مبلغ ۲,۸۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۳۷۸,۰۰۰ (سی‌صد و هفتاد و هشت هزار) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.
قابل یادآوری است که معادل ۳۲۰ دالر آمریکایی برای هر خانواده در آینده طی هشت قسط توزیع خواهد شد.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸۷ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډنمارک د کډوالو شورا DRC ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې شورا په مالی ملاتړ، ۲۸۷ اړمنو کورنیو ته د یاد ولایت په روحانی بابا ولسوالۍ کې له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۸۰۴,۶۰۰ (۸۰۴ زره او ۶۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز برای ۴۰۶ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه OHW، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز با حمایت مالی این مؤسسه، پس از سروی، برای ۴۰۶ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی در ولسوالی امام صاحب، کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این مرحله، برای هر خانواده به عنوان قسط دوم، مبلغ ۳,۰۰۲ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۱,۲۱۸,۸۱۲ (۱ میلیون، ۲۱۸ هزار و ۸۱۲) افغانی برای این تعداد خانواده تخصیص یافته بود.
قابل یادآوری است که دو مرحله دیگر از این کمک‌ها در آینده برای این خانواده‌ها توزیع خواهد شد.

## د بامیانو ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٦٠ کورنیو ته غیر خوراکی توکی وویشل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ORCDG موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بامیانو ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یادې موسسې سره په همغږۍ د دې ولایت د مرکز اړوند ۶۰ غار میشته کورنیو ته غیر خوراکی توکی وویشل.
په دې بهیر کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۶ تختې کمپلې او یوه بسته ژمنی البسه وویشل شوه.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۸ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې وویشلې



د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالی همکارۍ، د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو طبیعی پېښو له امله ۸۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی او غیرنغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۸,۰۵۰ افغانۍ او یو ژمنۍ کېټ وویشل شو چې ټولټال ۱,۵۸۸,۴۰۰ (۱ میلیون، ۵۸۸ زره او ۴۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۳۷ زیانمنونکو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت د مرکز اړوند په کلیو کې ۶۳۷ زیانمنونکو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د دریېیم او څلورم قسط ۵,۶۰۰ افغانۍ وویشل شوې چې ټولټال ۳,۵۶۷,۲۰۰ (۳ میلیونه، ۵۶۷ زره او ۲۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

# په ننگرهار ولایت کې د اوبو رسونې د کانال پروژه پرانستل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ډنمارک د کډوالو شورا DRC په مالی همکارۍ، د یاد ولایت حصارک ولسوالۍ په معین خېل کی د اوبو رسونې د کانال پروژه د یاد ولایت او ولسوالۍ د استازو، د یاد ریاست او موسسې د استازو او د قومی مشرانو په شتون کې پرانسته او ګټې اخیستنې ته وسپارله.

دا پروژه د کرنیزو ځمکو لپاره د اوبو د وېش او کنټرول لپاره د ۵ پلچکونو او ۱۵ دروازو په درلودو سره د ۵۰۰ متره په اوږدوالی د ۴۸ زره امریکایی ډالرو په ارزښت بشپړه شوه.

د یادونې وړ ده چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سیمې د کروندګرو کرنیزې ځمکې په ښه توګه خړوبه شی او د اوبو له ضایع کېدو به مخنیوی وشی.

همدرانګه د سیمې اوسېدونکو له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او DRC موسسې څخه د دې پروژې د بشپړولو په پار مننه او قدردانی وکړه او زیاته یې کړه چې دا پروژه به د دوی په اقتصادی پرمختګ کې مهم رول ولوبوی.

## عامه پیغامونه :

1. **د زلزلې څخه وروسته ژر تر ژره د ټپیانو سره مرسته وکړئ**
2. **همیشه د هر ډول طبیعي او غیرطبیعي پېښو د خطرونود مخنیوې لپاره چمتو اوسئ**
3. **خیر د خلګو هغه څوک دې چې خلګو ته خیر رسوې (الحدیث)**
4. **د سیلاب راوتلو په وخت کې د اوبو د جریان څخه لوړ او خوندي ځای ته ځان ورسوئ**
5. **تیز رفتاري د مرګ سبب ګرځي**